Government of Canada Gouvernement du Canada

# مطبوعاتي اعلاميه

**د افغانستان د ګمرکاتو د ملي اکاډمۍ لومړنۍ تولګۍ فارغ شو**

**کابل، د 2010 د مارچ 15مه**: د افغانستان د ګمرکاتو د ملي اکادمۍ څخه چې په دې وروستیو کې جوړه شوې ده، د لومړنۍ دورې د فارغانو په توګه 48 تنه زده کوونکو نن د خپل فراغت نمانځنه وکړه. د کاناډا سفیر ویلیم کروزبی، افغان لوړ پوړو چارواکو او د امریکا سفارت چارواکو د ښوونکو او زده کوونکو سره د فراغت په مراسمو کې ګډون وکړ.

د کاناډا سفیر ویلیم کروزبی وویل: " ډیر زیات خوښ یم چې یو ځل بیا اکادمۍ ته راغلی یم او د افغانستان د ګمرکاتو د ملي اکادمۍ د لومړنۍ دورې د فراغت شاهد یم. کاناډا خوشحاله ده، چې زموږ د تجربو او تخصص څخه په ګټې اخیستنې سره د افغانستان له حکومت څخه ملاتړ کوي ترڅو خپل د ګمرکي خدمتونو وړتیا لوړه کړي او د هیواد د عوایدو په راټولولو کې مرسته وکړي."

د افغانستان د ګمرکاتو ملي اکادمي چې د یو شمیر ډونرانو په ملاتړ جوړه شوې، د افغانستان د ګمرکاتو د ریاست سره مرسته کوي، ترڅو پرمختللو ګمرکي خدمتونو ته وده کړي.
د افغانستان د ګمرکاتو د ملي اکادمۍ ( ANCA) له لارې د 150 څخه تر 200 پورې کسان به د یو 12 میاشتنې کورس په ترڅ کې په ګمرکي چارو کې وروزل شي. همدارنګه څلور تنه افغان روزونکي به د روزونکو په یو روزنیز پروګرام کې ګډون وکړي ترڅو وروسته هغوی دا وړتیا پیدا کړي چې نورو افغانانو ته روزنه ورکړي، او دغه ډاډ ترلاسه شي، چې د افغانستان د ګمرکاتو ملي اکادمي په تل پاتې توګه خپل فعالیت ته دوام ورکړي.

کاناډا په کابل کې د افغانستان د ګمرکاتو د ملي اکادمي په تعلیمي نصاب کې د شاملولو په موخه د ګمرکاتو روزنیزې نمونې جوړې کړې دي، او همدرانګه د اکادمۍ لپاره به د منجمنت د پراختیا پروګرام جوړ کړي. د کاناډا حکومت همدرانګه د کاناډا د پولو د خدمتونو له اداري څخه متخصصین برابر کړي، ترڅو د اکادمۍ د مشر د مرستیال او د مشر روزونکي په توګه کار وکړي.